مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد معصوم هوتک

۲۰۱۸/۱۰/۳۱

# نیرنگ عشق

## په شعر کې د حمید مومند د کمال او جمال هینداره

(دریمه برخه)

### د نیرنگ عشق پښتو ژباړه:

حمید مومند دنیرنگ عشق داستان د فارسي اصل په شان په مثنوي فورم کې ژباړلی دئ. ژباړه ئې ازاده ده او حمید پکښې د خپلي شاعری کمال و جمال دواړه ځلولي دي. دا چې حمید بابا ولي د نیرنگ عشق د ژباړلو اراده کړې ده، دلیل ئې ده د ژباړې په اول سر کې بیان کړی دئ او وایي :

دا قصـه د اور حـصه زمـــــا صاحبه
د کـنـجـاه مـحـمد اکرم کـړه فارسي ژبه

چې ئې ولـگـــــــېده تاب زما په زړه
لولپه ئې کـــــــړ کباب زمـــا د زړه

چې مې ولـیـد دا کـتـاب سیم و ذهب
مـشـتـمـل پــــر مـسـئـلـو د خپل مذهب

*****

خـواه ناخـواه راغی هـوس چې ئې پښتو کړم
باندې گـــــــرمه هنگامــــــــه د پښتنو کړم

*****

که هر خـــــــــــــو مجازي مینه ناروا ده
هیڅ د شرعي شـــــــــــرم نه لري رسوا ده

بیا چې پُل د حـقیقت مـــــــجاز وایه شي
مـی بـایـد چې دې شـکـست تـه سـاز وایه شي

تر دې وروسته د خپلي دغي ادعا د اثبات له پاره د لویو مشایخو او د خدای د نازولو" مولوی جام" او " خواجه احرار" په حوالو روایتونه راوړي او د خپلي " ورکي" په تلاښ کي " د کوم گوهر" د موندلو هیله له ځانه سره ساتي:

د حـمـید بـوالـــــــــــهوسي ناکسي نه ده
پـه هـر کار کښي مناسب غور رسي نه ده

لـــــــــتوي په خپله ورکه پسي هر مخ
کـوم صدف بـه ورښکاره کۀ د گـوهر مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دا چي دده ورکه به څه وه؟ موږ ئي اټکل کولای سو. دده په نظر، سره له دي چي مجازي مينه د شريعت له مخي ناروا ده خو دا چي حقيقت ته د رسېدو له پاره د پله کار ورکوي، نو بايد چي " ساز" يعني روا وبلله سي. دده دوهمه ورکه پښتو او پښتانه دي. دی د پښتنو له بی علمی او جهالت څخه رنځ وړي او غواړي ددي اثر د ژباړي له لاري د پښتنو هنګامه توده کاندي او الحق چي توده کړي ئي هم ده. د نيرنګ په انتخاب کي دی مولانا غنيمت د ځان سيال بولي. د دوی عقيدوي او طريقتي لاري سره يو دي. دواړه د شرع عالمان او د سلوک دلاري لارويان دي. د دواړو ممدوح يو دئ. مولانا غنيمت د اورنګ زېب په مدح کي وايي:

شه اورنگ زیب کامرانی
چراغ دوده ی صاحبقرانی

سرافراز جناب بی نیازی
پناه شرع عالمگیر غازی

*****

بـه تخت سلطنت هم شوکت جم
بـــــود در خلوت ابراهیم ادهم
( صـه ۶ چاپ لاهور)

حميدبابا هم د اورنګ زېب د زماني د عدالت خبره کوي او پر مرګ ئي افسوس کوي :

دا څه دور د ګـــــردون راغی وقت نور شۀ
چي شپوه د عـــــــــــدلانو ظلم و زور شۀ

*****

څه بـه شـــــور نـه وي د هند په ميخانه کي
چي اورنـګ څخـه د حکم جـام نسکور شۀ

چي دده د عـــــــدل نـــــــــمر دئ پرېوتل
تـوره شپـه د ظـــــــلم وختـه ملک تور شۀ

هـر ســــړی دربـانـدي پښه په پورته خېژي
اورنـګـشاه پرېـښی تـخت لاړ دَوَر نورشۀ

هـــــــمدغه د امن لـــــــوری دئ حميده
که دي مخ له دنياګيه پـه بل لــــــــــــور شۀ
(د عبدالحميد مومند ديوان ـ ۲۸۸، ۲۸۹، ۲۹۰ مخونه)

حميد د نيرنګ عشق په ژباړه کي خپل لاس خلاص پرې ايښی دئ. کله چي ئي د يوه مطلب په بيان کي د خيال باز د الوتو هڅه کړي ده. ده ئي له سترګو څخه پوښ او له پښي څخه بند ايسته کړی دئ او خدای سته چي هيڅ وخت ورته بي ښکاره هم نه دئ راغلی.
د حميد په ترجمه کي د فارسي اصل د سر اووه عنوانونه نه دي ژباړل سوي . د پښتو ژباړي دوهم عنوان د پنجاب په وصف کي دئ چي دا عنوان د فارسي د لاهور چاپ لسم عنوان او دلکهنو چاپ اتم عنوان دئ. ما چي د غنيمت او حميد د نيرنګ عشق بيتونه يو ګبنت وشمېرل د حميد دا نژدي دوه سوه بيته پر زيات سول. خو دا شمېرنه ډېره دقيقه نه ده.
پښتو نيرنګ عشق واردواره د پېښور په مصطفايي مطبعه کي چاپ سوی دئ ( ۱۲۸۴ هـ ق =۱۸۶۷ع ). دوهم چاپ ئي له دهلي څخه د پياري لعل په اهتمام خپور سو (۱۲۹۹هـ ق = ۱۸۸۱ ع ). يوه کوچنوټي برخه ئي ښاغلي همېش خليل په ورکه خزانه کي چاپ کړه ( ۱۹۶۰ع). د کابل پښتو ټولني هم په ( ۱۳۴۹ش = ۱۹۷۰ ع ) خپور کړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولۍ

ددغه چاپ نقل د عبدالحمید مومند په کلیات کي د ښاغلي محمد آصف صمیم په همت د دانش خپرندویي ټولني له خوا خپور سو ( ۱۳۸۳ش = ۲۰۰۴ع). انتقادي متن ئې د پښتو ټولني تر چاپ یو کال دمخه د کابل پوهنتون د ادب پوهنځي د هغه وخت استاد ښاغلي بسم الله ځیرمن د علامه رشاد تر لارښووني لاندي تهیه کړی وو( ۱۳۴۸ ش = ۱۹۶۹ ع ) خو نه پوهیږم چي د پښتو ټولني په چاپ کي ولي له دغه متن څخه استفاده نه ده سوې؟ وایي چي دغه انتقادي متن د کابل پوهنتون د افغانستان پېژندني په څانګه کي خوندي وو ( د عبدالحمید مومند دیوان ـ سریزه ـ ۱۰۶ مخ). خو داسي ښکاري چي د کابل په چور او تالان کي دي له منځه تللی وي . دوهم وار انتقادي متن ته ئې ما (هوتک) ملا تړلې ده او کار ئې پر بشپړېدو دئ.

## د پښتو او فارسي نیرنګ عشق د کلام موازنه:

د نیرنګ عشق داستان د ثبت اوله خبنته لکه وړاندي چي مو ولوستل،په فارسي ابښوول سوې ده او پښتو ژباړي ته ئې حمید مومند غوندي قادرالکلام او نازکخیال شاعر را میدان ته سوی دئ.

د نیرنګ عشق د پښتو ژباړي اعجاز او د افادې د قوت بیانولوته به زما په خیال د ښاغلي جهاني دا قول کافي وي چي لیکلي ئې دي :

" حمید به چا لږ او چا ډېر لوستی وي. خو چا چي د هغه نیرنګ عشق نه وي لوستی ګواکي حمید ئې نه دئ لوستی، یا لږ تر لږه نیمګړی ئې لوستی دئ. د حمید د کلام زور، د خیال پرواز، د فکر ژوروالی او د طبعي نازکي د هغه د نیرنګ عشق په ترجمه کي معلومیږي." .(وګ : افغان ـ جرمن وېبپانه ـ د لیکوالو په آرشیف کي د ښاغلي عبدالباري جهاني تر نامه لاندي برخه.)

د حمید ترجمه چي څوک لولي، داسي ورته ښکاري چي بیا هم هغه د ښاغلي جهاني خبره، حمید له مولانا غنیمت سره د غېږ ایستلو اراده کړې ده. حمید خپل ځان له دې میدان څخه بریالی راوتلی بولي خو حریف ئې هم د شعر کوم عادي پهلوان نه دئ او تاسي به ئې څو کرښي وروسته د دوی دوو د کلام په موازنه کي ولولئ چي د مقابلي په دغه ډګر کي ئې ځای ځای د حمید غښتلي قریحه ستومانه کړې ده.

ددې موازني له پاره زه پخپل کمزوري بضاعت او مات قلم کي دونده (دومره) بیچ نه وینم چي تر ځهدې دې ئې ووتلای سم . ددغه مجبوریت له اسیته د مطلب د لا ښه پرتلي او بیان له پاره به د خپل مهربان استاد اروابناد علامه رشاد (رح) ناچاپو یادښتو ته د مرستي غوښتلو لاس وغځوم. له دې کار څخه مي مراد په اول قدم کي د خپل استاد د یادابنتونو فیض عامول دي او په دوهم ګام کي مي د دغو دوو پیاوړو شاعرانو د کلام ادبي موازنه ده. علامه مرحوم د مولانا غنیمت څو فارسي بیته رااخیستي او هغه ئې له پښتو ژباړي سره داسي پرتله کړي دي:

### ۱ ـ مولانا غنیمت ویلي دي:

بـــه امـید وصـال آراست محفل
طلبگار عــــــــلاج سوزش دِل

حــمـید ئې ژباړه په دې ډول کړې ده:

پـه امـید د یار د وصل ئې مجلس جوړ کړ
آب و تاب ئې د اِرم پکښي نچوړ کــــــــړ

مولانا غنیمت په دوهم نیم بیتي کي وایي چي عزیز د زړهٔ د سوځلو (رنځ) علاج غوښت ځکه ئې نو دغه مجلس جوړ کړ.

د حمید دوهم نیم بیتی د مجلس په تعریف کي دئ. دی وایي چي : د اِرم آب و تاب ئې په دغه محفل کي را نښتېځلی وو. یعني په اِرم کي ئې هیڅ آب و تاب پرې نه ښود، ټول ئې دغه مجلس ته رانقل کړ.د حمید نیم بیتی پخپل ځای کي بکر مضمون دئ او د محفل ستاینه به تر دې ښه ښایي ممکنه نه سي. د حمید نیم بیتی د مضمون آفریني له مخي ډېر اوچت دئ خو د غنیمت له نیم بیتي سره هیڅ مشابهت او مماثلت نه لري.

### ۲ ـ غنیمت وایي:

شب آنجا بود تنها در تب و تاب
بــه زخـم دل نمک افشاند مهتاب


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

حمید وایي:

یکتنها د هغه مړي په ګور شپه شوه
باندي ســـــــــازه د بلا جفا څپه شوه

غنیمت وایي: د تنهایۍ د شپې په تاب و تب کي سپوږمۍ لا د زړه پر زخمونو مالګه پاشله ځکه چي د یار د مخ ځلا او رونړا ئي درلوده. مګر حمید شاهد له مړي سره تشبیه کوي او د هغه کلۍ له ګور سره ـ ددې دواړو تشبیه ګانو وجه شُبه مجبوریت (ناکام) دئ. پښتانه وایي " ګور ته تلۀ له ناکامه دي".
د غنیمت په بیان کي دغه نکته نسته اما د سپوږمۍ له لیدلو څخه ئي پر زخم مالګه دوړېدل خاص لطف لري. دغه مطلب حمید د بلا او جفا د څپو په سازېدلو (راوښتلو) افاده کړی دئ چي هغومره لطف نه لري.

**۳ ـ غنیمت وایي:**

به رنګ دستهٔ ګل بسته بردند
چو بلبل با درون خسته بردند

حمید داسي ژباړلی دئ :

هغه هم لـکـه دسته د تازه ګلو
بُت تړلی هغه قـــوم په وهلو

د" بلبل درون خسته" مفهوم د حمید په بیت کي نسته . دا د حمید نیمګړتیا ده . خو د تازه کلمي په زیاتولو ئي د لومړي نیم بیتي لطف زیات کړی دئ.

**۴ ـ غنیمت ویلي دي:**

چو بـخـت دشمنان تاریـک و تیره
تعفن تا به ســـــــــقف او ذخیره

د حمید ترجمه:

لـکـه بـخـت د بدبختانو تاریک تور وو
له همه بلاوو ډک، د عاصي ګور وو

د غنیمت د دوهم نیم بیتي مطلب د حمید په ترجمه کي نسته او د هغه مطلب پر ځای ئي زندان د ګنهګار له ګور سره تشبیه کړی دئ چي له لړمانو، مارانو، ورستو سوو غوښو له بد بويۍ، اوړ او لمبو، ببر او وحشت او عذاب څخه ډک وي. د حمید په دوهم نیم بیتي د عذاب د ډېرښت بیان د تاثر اندازه زیاتوي. د حمید په لومړي نیم بیتي کي د مولاناغنیمت د (دشمنان) پر ځای ( بدبختان) کلمه راغلي ده چي واقعیت ته ئي افاده نژدې کړې ده. دښمنان کله بدبخته وي کله نېکبخته. لازمه او حتمي نه ده چي بدبختي دي همیشه د دښمنانو ملګرې وي. د غنیمت تر (دشمنان) د حمید (بدبختان) غوره ایسي.

**۵ ـ غنیمت وایي:**

عـجوز، آن کهنه لوح مشق صد نیش
ګرفت این کار [را] بر عهدهٔ خویش

حمید داسي ترجمه کړی دئ:

هغي زالي، بلا غـــــواړي ناترساني
دا دشـواري پـــه سر واخیستي آساني


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

غنیمت د عجوز ( زړې بوډۍ) د فاحشه ګرۍ صفت په خورا ښه اسلوب بیان کړی دئ. دی وايي : ددغي زړې، زړه لوحه ( د تیراندازۍ هدف) چي مراد ورځني د ښځي عضو مخصوص دئ، د سلګونو مستو ځوانانو د زنا د مشق تخته وه. حمید دغه مطلب په (بلاغوارې او ناترساني) کلمو کي افاده کړی دئ چي هغومره قوت نه لري.

**۶ ـ غنیمت وایي:**

چـومـن این ګوهر سیراب سفتم
شنیدن را مبارکـــــــباد ګفتم

حمید ئې داسي ژباړي:

مـا چي وپيـیل دا دُر په باریکی
غوږو ورکړې یو تر بل مبارکی

د حمید دوهم نیم بیتی د غنیمت تر دوهم نیم بیتي ډېر ادبي ارزښت لري. غنیمت وایي : ما د اورېدلو حس (سامعي) ته مبارکي ورکړله. حمید وایي : غوږو چي ددغي سیرابي ( آبداري) مرغلري د نظم خبر واورېد، یو بل ته ئې مبارکی وويلي. د حمید محاکات ډېر ادبي لطف لري او مضمون ته ئې ځکه نزاکت وربخښلی دئ چي بل ځوک (غوږونه) یو وبل ته مبارکی وايي او د غنیمت په نیم بیتي کي دی پخپله سامعي ته مبارکي ورکوي. د بل د خولي تعریف د خپلي خولي تر تعریف خوندور، مؤثر او مناسب وي. د حمید افاده له تصلفه تشه ده او د غنیمت په وینا کي تصلف سته.

**۷ ـ غنیمت ویلي دي:**

عطا فــــــــرمودهٔ چرخ مقرنس
قــدش را خـلـعت عریانی و بس

د حمید ژباړه:

اغوستن ئې آئینه غــــــوندي نمد وو
په خوارۍ کښي ئې د حُسن برآمد وو

د حمید دوهم نیم بیتی دده خپل ایجاد دئ. لومړي نیم بیتی د غنیمت د درست بیت مطلب په ډېر ایجاز خو په بل مضمون افاده کوي. د غنیمت په بیت کي د عریانی فلک داد خلعت ( فطري لباس) غُلو ده چي د مبالغي نهایي او له عقل و عادته لیري مرتبه ده. هلک که هر څومره غریب سي، لڅ لغړ نه ګرزي. یوه زړه ګنداړه به ئې هرو مرو په غاړه کي وي. دغه ګنداړه به خیري وي، پینه به وي، خیرنه خچنه به وي، خو وي به چي هلک له یخ و ګرمی خوندي کړي. د حمید په لومړي نیم بیتي کي دا غُلو نسته. شاهد کمیس لري خو د وربښمو نه دئ، زربفته نه دئ. د نمد (کراستي) کمیس دئ. له آئیني سره د شاهد تشبیه د حمید د بیان خوند ډېر کړی دئ. صفا او ځلا او سپینوالی ئې وجه شبه ده. عادتاً پخوانیو چي له ښیښي څخه هینداره جوړوله. مره پاره ( زیبق) به ئې د ښیښي په یوه مخ پوري وموښله او په نمڅی (نمد) کي به ئې ونغښتله. دا مطلب د حمیدپه دی بیت کي هم راغلی دئ:

اطلس پوښ دي ویار زما د شړی نه که
شاړ نمد کـــــړ آئیني غوندي بستر زما

**۷ ـ غنیمت وایي:**

شبی با زلف لیلی دوش بر دوش
شبی با طالع مـجنون هم آغوش

د حمید ترجمه:

د لیلا د تورو زلفو خوا په خوا وه
د مجنون له بې خوابیه بې پروا وه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

غنيمت په دوهم نيم بيتي کي وايي : شپه داسي تکه توره وه لکه د مجنون طالع. د وينا سياق د شپې د توري تيارې ښوول دي. په وړاندي وروستو بيتو او حتی د بيت په لومړي نيم بيتي کي غنيمت دغه سياق ساتلی دئ. مگر حميد وايي : توره شپه د مجنون له بي خوابيو بي پروا وه. د حميد مضمون د بيان له سياقه وتلی دئ او د شپې د تيارې په توصيف هيڅ اړه نه لري. يوه مبتذله معترضه جمله ده او بس.
دغه اووه ځايه د علامه رشاد له خوا تشريح سوي ول چي د غنيمت او حميد د کلام ادبي موازنه ئي کړې ده.
د نيرنگ عشق په فارسي او پښتو متن کي زه (هوتک) پر يوې تحقيقي کمزورئ باندي پېښ سوی يم چي د کمزورئ پړه ئي د غنيمت پر غاړه لوېږي، نه د حميدپر غاړه. ځکه حميد د يوه امانتکار ژباړونکي په توگه د متن ثبت را اخيستی دئ.

مرا آمـــد ز روی حُسن ارشاد
دو مـصـرع از کلام مـولوی ياد

*****

" متاب از عشق رو گر چـه مجازيست
که آن بـــــــهر حقيقت کارسازيست"

حميد داسي ژباړلي ده:

ماتـه يـاد دئ هـــــغه بيت د مـولوي
دا مـضـمـون پـکښي تـــرلـی معنوي

عشق هـمـدم لـره اگـرچي مجازي وي
مـيـدان وگـتـه اگـــرچي پـه بـازي وي

که دي زړه د حقيقت پـه کـارسازي وي
مينه مه پرېږده اگــــرچي مـجازي وي

دغه بيت چي د غنيمت په کلام کي ما په کوچنيو قوسو کي نيولی دئ، د مولوي بلل سوی دئ. د ( مولوي) کلمه د زياترو لوستونکو ذهن ته د مثنوي شريف د ښتن مولانا جلال الدين بلخي نوم تداعي کوي. خو دا بيت د مولوي بلخي نه دئ بلکي د نورالدين عبدالرحمن جامي د (هفت اورنگ) د (يوسف و زليخا) په برخه کي تر " نخل بيان فضيلت عشق بستن و شاخچهٔ آغاز سبب نظم کتاب به آن پيوستن" عنوان لاندي څورلسم بيت دئ. ددغه سرليک اول بيت داسي دئ:

دلِ فـــارغ زِ درد عشق دِل نيست
تـن بی درد دِل جز آب و گِل نيست

د يوسف و زليخا په ځينو الکترونيکي نسخو کي دغه بيت له قلمه لوېدلی دئ.
د جامي له نامه سره د ( مولوي) لقب د پښتو نيرنگ عشق په سر کي د مجازي مينې د بحث په ترخ راغلی دئ .

چي اول بـه نيک انجام مولوي جام
ښـه شراب د مجازي مينې په جام

خو زموږ تر بحث لاندي بيت په پښتو ژباړه کي د (معنوي) کلمي زياتَونه د لوستونکي ذهن ته د ( مثنوی معنوی) د تداعی چانس زيات کړی دئ.
(د دريمي برخي پای)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ